قرآني بيان

د بني اِسرائيلو سخے

د مدني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي)
د انتظام د لاندې جوماتونو د پاره

په 25 ستمبر، کال 2026ء

(متوقع اِسلامي تاريخ: 13 ربيع الآخر، کال 1448

د جُمعَةُ المبارک



د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي)د انتظام د لاندې جوماتونو د پاره

په 25 ستمبر، کال 2026ء (متوقع اِسلامي تاريخ: 13 ربيع الآخر، کال 1448ھ) د جُـمعَةُ الـمبارک

د بني اِسرائيلو سخے

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- د طالِب او د مطلوب فرق ته خو خوک وګورئ---!!
- د تَوحِيد پرستۍ يو مثال
- نا شُکري د عذاب وجه ده
- د يَمَن والا په سيلاب کښې ولې راګير شول؟

پيشکش

اَلْـمَـدِيْـنَـةُ الْـعِـلْـمِـيَـة

Islamic Research Center

(شعبه: بياناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ط وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله
اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت اوكړو)

د دُرُود شريف فضيلت

د اَربعينِ عطّار، قسط: 2، صفحه: 3، حديثِ پاک نمبر: 3 دے:

اَيُّمَا رَجُلٍ مُسْلِمٍ لَمْ يَكُنْ عِنْدَهٗ صَدَقَةٌ، فَلْيَقُلْ فِيْ دُعَائِهٖ: اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ عَبْدِكَ وَرَسُوْلِكَ، وَصَلِّ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ، وَالْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمَاتِ، فَاِنَّهَا زَكَاةٌ لَا يَشْبَعُ الْمُؤْمِنُ خَيْرًا حَتّٰى يَكُوْنَ مُنْتَهَاهُ الْجَنَّةُ۔

ترجمه: د کوم مسلمان سره چې د صدقې کولو د پاره څۀ نۀ وي، هغۀ له پکار دي چې پۀ خپله دُعا کښې دا وائي: اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ عَبْدِكَ وَرَسُوْلِكَ، وَصَلِّ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ، وَالْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمَاتِ نو دا زکوٰة دے او مؤمِن چې هم پۀ نېکۍ نۀ مړېږي د دې پورې چې جَنَّت د هغۀ ځائے وي۔ [1]

1 ... ابن حبان، كتاب الرقائق، باب ذكر البيان بيان صلاة الداعى ربه...الخ، صفحه:348، حديث:903۔

اَلسَّلَام اے خُسروِ دنیا و دیں	اَلسَّلَام اے راحتِ جانِ حَزیں
اَلسَّلَام اے نورِ اِیماں اَلسَّلَام	اَلسَّلَام اے راحتِ جاں اَلسَّلَام
غمزدوں کو آپ کر دیتے ہیں شاد	سب کو مل جاتی ہے منہ مانگی مراد
کیجئے رَحمت حَسَن پر کیجئے	دونوں عالَم کی مُرادیں دیجئے (1)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

قَالَ اللّٰہُ تَبَارَكَ وَ تَعَالٰی فِی الْقُرْاٰنِ الْكَرِیْم (الله پاک په قرآنِ کریم کښې فرمائي):

وَ اِذْ وٰعَدْنَا مُوْسٰۤى اَرْبَعِیْنَ لَیْلَةً ثُمَّ اتَّخَذْتُمُ الْعِجْلَ مِنْۢ بَعْدِهٖ وَ اَنْتُمْ ظٰلِمُوْنَ ﴿۵۱﴾

ثُمَّ عَفَوْنَا عَنْكُمْ مِّنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۵۲﴾

(پارہ: 1، سورۂ بقرہ: 52-51)

صَدَقَ اللّٰہُ الْعَظِیْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُہُ النَّبِیُّ الْكَرِیْم صلّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَ آلِہٖ وَسَلَّم

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: چې کله مونږه موسیٰ سره د څلوېښتو شپو وعده اوکړه بیا په هغه پسې وروستو تاسو د سخي [د غوا د بچي] عبادت شروع کړو او تاسو واقعي ظالِمان وئ- بیا د هغې نه پس مونږه تاسو ته بخښنه اوکړه چې تاسو شُکر ادا کړئ-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

د آیت مبارک مختصر وضاحت

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! مونږ د وړومبۍ سیپارې، د سورۂ بقره د آیت : 51 او 52 د

1 ... ذوقِ نعت، صفحه: 294 و 299 ملتقطًا۔

اورېدو سعادت حاصل کړو، پۀ دې آيت مبارک کښې د بني اِسرائيلو يوه واقعه ذِکر کړے شوې ده، راځئ چې ورڕومبے هٰغه واقعه واورو، بيا به د آيت د اورېدو، د ځان د پوهه کولو او د هغې نه د سبق حاصلولو کوشش کوو-

د بني اِسرائيلو سخے

واقعه داسې وشوه چې کله فرعون غرق شو، د بني اِسرائيلو د هغۀ نه ازادي نصيب شوه، بني اِسرائيلو پۀ خوشحالي خوشحالي ژوند تېرولو، بيا الله پاک حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام ته حُکم اوکړو: اے موسیٰ! تاسو کوهِ طُور ته راشئ! تاسو له به يو کتاب درکړے کيږي-

ورڕومبے پۀ کوهِ طُور باندې د 30 ورځو د اِعتکاف کولو حُکم وشو، نو حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام خپل ورور حضرت هارون عَلَيْهِ السَّلَام کوم چې پخپله هم نبي دے، هغوئ يې خپل خليفه جوړ کړو او پخپله يې کوهِ طُور ته تشريف يوړلو- [1] 30 ورځې اِعتکاف يې اوکړو، روژې يې ونيولې، پۀ اخرې ورځ يې چې کله د الله پاک سره د کلام کولو سعادت نصيب کېدل وو، حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام مسواک اوکړو، نظافت او پاکي يې اِختيار کړله او د الله پاک پۀ حُضُور کښې د حاضرې د پاره تيار شو- کله چې د کلام کولو سعادت نصيب شو نو الله پاک وفرمائيل: اے موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام ! د روژو د نيولو سره چې ستاسو پۀ خُله کښې کومه خوشبوئي وه، هغه زما پۀ نزد د مشکو نه هم ډېره خوښه ده، تاسو مسواک اوکړو او هٰغه خوشبوئي مو ختمه کړه، لهٰذا اوس نورې 10 ورځې ايسار شئ! [2]

1... تفسیر بغوی، پارہ:1، سورۂ بقرۃ، زیرِ آیت:51، جلد:1، صفحہ:49 خلاصۃً۔

2... تفسیر نعیمی، پارہ:1، سورۂ بقرۃ، زیرِ آیت:5351، جلد:1، صفحہ:382 خلاصۃً۔

سُبْحٰنَ اللہ! معلومه شوه چې روژه ډېر خوښ عبادت دے، د روژې نيولو سره د لوړې پۀ وجه پۀ خُله کښې چې کومه خاص بوئي راځي، د الله پاک هٰغه بوئي ډېره خوښ دے نو پخپله به يې روژه څومره خوښه وي- الله پاک دې توفيق راعطا کړي، مونږ له پکار دي چې د فرض روژو سره سره نفلي روژې هم نيسو-

روزہ داروں کے واسطے وَاللہ!	مَغْفِرت کی نَوِید ہوتی ہے[1]

خبر! حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام بيا 10 ورځې نور اِعتکاف اوکړو، نورې 10 روژې يې ونيولې، بيا يې د الله پاک سره د کلام کولو سعادت حاصل کړو-

دلته چې کوم بني اِسرائيل وو، هغوئي څۀ اوکړل چې سامري کوم چې يو مُنَافِق اِنسان وو، ډېر ګمراه وو، هغۀ د بني اِسرائيلو د ګمراه کولو د پاره د د سرو او سپينو زرو وغېره نه يو سخے جوړ کړو، پۀ هغې کښې يې يو څيز داسې واچولو چې هٰغه سخي اواز شروع کړو- بيا سامري ووئيل: اے بني اِسرائيلو! حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام د خُدائے سره د ملاقات د پاره کوهِ طُور ته تلے دے او خُدائے خو ستاسو خوا له راغلے،پۀ دې سخي کښې خُدائے حلول کړے دے او ستاسو سره خبرې کوي- (اَستَغفِرُ اللہ! اَستَغفِرُ اللہ!)-

بني اِسرائيل سامري دوکه کړل او هغوئي يو بے ساه سخے خُدائے وګڼلو او عبادت يې ورله شروع کړو- [2]

1...وسائلِ بخشش، صفحه:707 ملتقطًا۔

2...تفسیر بغوی، پارہ:1، سورۂ بقرۃ، زیرِ آیت:51، جلد:1، صفحہ:49 و50 خلاصۃً۔

دلته بني اِسرائيل پۀ دې شِرک کښې اخته شول، هلته الله پاک حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام د ټولو حالاتو نه خبر کړو، نو حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام پۀ جلال کښې راغلو او ډېر غضب ناک شو او واپس يې تشريف راوړلو، هٰغه سخے يې مات ټوټې ټوټې کړو، سامري له يې سخته سزا ورکړه او پۀ بني اِسرائيلو باندې يې توبه وويستله او بيا يې پرې کلمه ووئيله۔ (1)

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د سامري سره داسې څيز وو، کوم چې هغۀ د سرو زرو پۀ سخې باندې ورواچولو نو هغۀ خبرې شروع کړې، د دې بيان پۀ 16 سيپاره، سورۀ طٰهٰ کښې دے، حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام د هغۀ نه پوښتنه اوکړه چې تا دا څنګه اوکړل؟ نو وه يې وئيل:

بَصُرْتُ بِمَا لَمْ يَبْصُرُوْا بِهٖ فَقَبَضْتُ قَبْضَةً مِّنْ اَثَرِ الرَّسُوْلِ فَنَبَذْتُهَا

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: ما هٰغه څۀ وليدل کوم چې خلقو وه نۀ ليدل نو ما د فرښتے د نشاناتو نه يو موټے راډک کړو بيا مې هغه واچولو۔

(پارہ:16، سورۂ طٰهٰ:96)

يعنې اے موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام ! ما هٰغه څۀ وليدل کوم چې بني اِسرائيلو ته پۀ نظر رانغلل، مطلب ما جبريل عَلَيْهِ السَّلَام وليدلو او هغوئ مې وپېژندلو، هغوئ پۀ اَس باندې ناست وو، نو ما د هغوئ د اَس د ښپو د ځنبې نه يو موټے خاوره راواخستله، بيا مې هغه پۀ سخې کښې

1... تفسیر نعیمی، پارہ:1، سورۂ بقرۃ، زیرِ آیت:5351، جلد:1، صفحہ:385و386 مفصلاً۔

واچوله، د هغې په وجه دا سخے ژوندے شو او خبرې يې شروع کړې۔ [1]

د تبرکاتو برکتونه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دلته غور اوکړئ چې حضرت جبريل عَلَيْهِ السَّلَام الله پاک ته محبوب دے، هغه بے شکه چې برکتي دے خو واسطې وشمېرئ: ❁ حضرت جبريل عَلَيْهِ السَّلَام الله پاک ته محبوب دے ❁ د هغوئ سره د اَس نسبت پېدا شو ❁ د اَس د ښپو د خاورې سره نسبت شو، په هٰغه خاوره کښې الله پاک دومره اَثر پېدا کړو چې د هٰغې خاورې د لګېدو سره په بےساه سخي کښې ساه راغله، هغه خبرې نه شوې کولے، خبرې يې شروع کړې۔ اَللّٰهُ اَکْبَر! معلومه شوه چې تبرکات د الله پاک په عطا سره ژوند ورکوي، د دې په برکت مړۀ زړونه راژوندي کيږي، مړه شوي قامونه عروج ته رسېږي او الله پاک د تبرکاتو دننه په مړي کښې د ساه اچولو اثر هم پېدا کوي۔

علمائے کرام فرمائي: د نېکانو او د پاکانو خلقو په تبرکاتو کښې اثر وي، بيا دا د لاسونو فرق دے، که دا تبرکات د ګستاخانو لاسو ته ورسېږي نو هغوئ د پاره د تبرکاتو غلط اثرات وي، د ادب والؤ لاسو ته که راشي نو د دې تبرکاتو اثرات ښه وي، وګورئ چې سامري ګستاخ وو، بے ادبه وو، د حضرت جبريل عَلَيْهِ السَّلَام د اَس د ښپو سره لګېدلې خاوره د هغۀ لاسونو ته راغله، که دۀ غوښتلے نو د دې نه يې ډېر برکتونه حاصلولے شول خو دے ګستاخ وو، هغۀ د دغه پاکې خاورې بے ادبي او ګستاخي اوکړه او هغه يې د شِرک د پاره اِستعمال کړه،

1... تفسير طبری، پاره:16، سورۂ طٰهٰ، تحت الآية:96، جلد:8، صفحه:451، حديث:24293۔

ځکه د هغۀ د شرارت پۀ وجه بني اِسرائيل ګمراهان شول۔ [1]

الله پاک دې توفيق راعطا کړي، مونږ له پکار دي چې که د بزرګانو تبرکات مو نصيب شي نو د هغې ادب اوکړو، د هغې تعظيم اوکړو او برکتونه تري حاصل کړو

اٰمِيْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ۔

دا شان دے د خِدمت کوونکو

اے د خورِ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! دلته يوه بله اِيمان تازه کوونکې نکته ده- حضرت جبريل عَلَيْهِ السَّلَام د چا د اَس د ښپو سره لګېدلې خاوره چې پۀ بے ساه څيز کښې د ساه اچولو اثر لري، دا جبريل عَلَيْهِ السَّلَام څوک دے؟ د فرښتو سردار او زمونږ د خورِ نبي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خادِم- نو بيا به مونږه ولې نۀ وايو:

چاہیں تو اشاروں سے اپنے کایا ہی پلٹ دیں دُنیا کی

یہ شان ہے اُن کے غلاموں کی سرکار کا عالم کیا ہوگا

الله! الله! اندازه ولګوئ! چې د خادم د اَس د ښپو سره لګېدلې خاوره داسې ده نو د الله پاک د نِعمت، مصطفٰے جانِ رحمت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارکې ښپې چې د کومې خاورې سره ولګي د هغې خاورې مرتبه به څۀ وي! د عاشقانو اِمام، اعلیٰ حضرت، اِمامِ اهلِسُنَّت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دغه خاورې مبارکې شان بيانوي:

ذَرّے جھڑ کر تیری پیزاروں کے | تاجِ سر بنتے ہیں، سیاروں کے [2]

1... تفسیر روح البیان، پارہ:16، سورۂ طٰہٰ، زیرِ آیت:96، صفحہ:426 خلاصۃً۔

2... حدائق بخشش، صفحہ:359۔

وضاحت: يَا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! ستاسو د نعلين شريف د مبارکو ښپو سره نسبت پيدا شو، نعلين شريف خاورې ښکل کړل، دا خاوره کومه چې د نعلينِ پاک نه برکت حاصلوي، د دغه خاورې ذرې د نعلين شريف نه رژېږي نو دغه ذرې د اسمان ستوري، نمر، سپوږمی، مُشتري، زُحل وغېره د خپل سر تاج جوړوي-

د آيت مبارک وضاحت

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا واقعه وشوه چې بني اِسرائيلو د سخي پۀ عبادت کولو سره شِرک اوکړو، دا جُرم خو ډېر لوئي وو خو الله پاک رحم اوکړو، دوئي ته يې د توبې توفيق ورکړو، د دې اِنعام پۀ ذِکر کولو الله پاک فرمائي:

وَاِذْ وٰعَدْنَا مُوْسٰۤى اَرْبَعِیْنَ لَیْلَةً ثُمَّ اتَّخَذْتُمُ الْعِجْلَ مِنْۢ بَعْدِهٖ وَ اَنْتُمْ ظٰلِمُوْنَ ﴿۵۱﴾

ثُمَّ عَفَوْنَا عَنْكُمْ مِّنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۵۲﴾

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: چې کله مونږه موسیٰ سره د څلوېښتو شپو وعده اوکړه بيا پۀ هغه پسې وروستو تاسو د سخي [د غوا د بچي] عبادت شروع کړو او تاسو واقعي ظالِمان وئ- بيا د هغې نه پس مونږه تاسو ته بخښنه اوکړه چې تاسو شُکر ادا کړئ-

(پارہ: 1، سورۂ بقرہ: 5251)

يعني اے بني اِسرائيلو! ياد کړئ! کله چې الله پاک حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام ته د کتاب ورکولو وعده وفرمائيله، هغوئي يې کوهِ طُور ته وبللو، حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام هلته 40 شپې اِعتکاف اوکړو، هلته ستاسو د هدايت سبب جوړېدو، ستاسو د پاره د تورات شريف

د نازلېدو بندوبست کيدو، دلته تاسو بهوقوفي اوکړه، پکار وو چې شُکر مو ادا کړے وے، تاسو اُلټا پۀ شِرک کښې راګېر شوئ خو د الله پاک کرم ته وګورئ! پۀ تاسو باندې د الله پاک فضل او اِحسان ته وګورئ چې د دومره لوئي ظُلم باوجود رَبِّ کريم پۀ تاسو باندې عذاب نازل نۀ کړو، تاسو يې تباه او برباد نۀ کړئ، د فرعون پۀ شان يې تاسو غرق نۀ کړئ بلکې تاسو ته يې د توبې توفيق در عطا کړو، بيا يې ستاسو توبه قبوله کړه او بيا يې درته د اِيمان نِعمت در عطا کړو- دا هر څۀ ولې وو؟ ځکه چې تاسو شُکر ګزار جوړ شئ، لهذا اوس د دې اِنعام شُکر ادا کړئ! زمونږه خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف راوړے دے، د هغوئي کلمه ولولئ، د دواړو جهانو د رحمتونو حقدار جوړ شئ---!!

آج لے اُن کی پناہ آج مدد مانگ اُن سے | پھر نہ مانیں گے قیامت میں اگر مان گیا[1]

د آيتونو مبارکو نه حاصلېدونکي سبقونه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د دې آيتونو مبارکو نه مونږ ته ډېر سبقونه د زدکړې د پاره مېلاؤ ږي:

د طالِب او د مطلوب فرق ته خو څوک وګورئ---!!

وړومبے خو پۀ دې خبره باندې غور اوکړئ! چې الله پاک حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام ته تورات شريف عطا کړے وو، نو هغوئي کوهِ طُور ته وبللے شو، 40 ورځې اِعتکاف وشو، روژې ونيولے شوې، عبادت وشو، بيا هغوئي ته تورات شريف عطا کړے شو- يقيناً چې دا هم

1... حدائقِ بخشش، صفحه:56۔

دِپر اوچت شان دے خو د محبوب نبي، رسولِ هاشمي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوچت شان ته وګورئ! نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په غارِ حِرا کښې تشريف فرما وو، هغوئي چرته نۀ وو بللے شوي، چرته د تللو تکليف ورنکړے شو بلکې چرته چې هغوئي وو، جبريلِ امين عَلَيْهِ السَّلَام هم هلته راولېږلے شو او قرآن ورعطا کړے شو-

بلکې دلته هم بس نۀ کړے شو، محبوبِ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې به چرته تشريف فرما وو، د قرآنِ کريم آيتونه به هم هلته نازلېدل ❁ خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مکه مکرمه کښې دے، قرآنِ کريم په مکه مکرمه کښې نازليږي ❁ خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مدينه منوره کښې دے، قرآنِ کريم په مدينه منوره کښې نازليږي ❁ خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په طائِف کښې دے، قرآنِ مجيد په طائِف کښې نازليږي ❁ خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په سفر کښې دے، قرآني آيتونه په سفر کښې نازل شول ❁ خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په جومات کښې دے، قرآني آيتونه په جومات کښې راځي او قربان شم! ❁ محبوبِ ذِيشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بستره مبارکه باندې دے نو قرآني آيتونه په بستره مبارکه باندې نازليږي، چرته هم د تللو راتللو تکليف نۀ ورکړے کيږي-

معلومه شوه چې حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام طالب دے، هغوئي طلبګار وو، ځکه د تورات اخستو د پاره کوهِ طُور ته لاړو خو محبوبِ ذِيشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم طالِب نۀ دے بلکې مطلوب دے، د هغوئي رضا غوښتلے کيږي، ځکه چرته د تللو تکليف وه نۀ شو، چرته چې حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے، قرآني آيتونه هم هلته نازل کړے شول- [1]

1... تفسير نعيمي، پاره:1، سورۀ بقرة، زيرِ آيت:5351، جلد:1، صفحه:384 مفصلًا-

فرق طالب و مطلوب دیکھے کوئی	قصۂ طُور و معراج سمجھے کوئی
کوئی بے ہوش، جلووں میں گم ہے کوئی	کس کو دیکھا یہ موسیٰ سے پُوچھے کوئی

آنکھ والوں کی ہمّت پہ لاکھوں سلام

وضاحت: څوک چې د طُور پۀ واقعه او د مِعراج پۀ واقعه باندې غور اوکړي نو پۀ دې کښې به د طالِب او مطلوب (یعنې د محبوبِ ذِیشان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم او د حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام د شان او د عظمت) فرق پوره واضحه شي چې حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام پۀ مقام طُور باندې د طالِب جوړېدو سره پخپله حاضر شو خو د الله پاک دیدار یې اونکړے شو صرف د یوې جلوې پۀ وجه بے هوشه شو خو چې د مِعراج پۀ واقعه باندې غور اوکړے شي نو معلومېږي چې رَبِّ کریم پخپله حضرت جبریل عَلَیْہِ السَّلَام راولېږلو او محبوبِ ذِیشان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم یې عرش ته وبللو او خپل دیدار یې ورعطا کړو او نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د الله پاک پۀ جلوو کښې ګرځي- دا دے د طالب او د مطلوب فرق او پۀ داسې عظیمو سترګو والا نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې دې پۀ لکونو سلامونه وي-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

د محبوب د اُمت یو فضیلت

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! بیا د دې ځائے نه پۀ دې هم غور اوکړئ! چې حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام صرف د 40 ورځو د پاره کوهِ طور ته تشریف یوړلو، حضرت هارُون عَلَیْہِ السَّلَام یې خلیفه هم جوړ کړے وو، پوره اِنتظام یې کړے وو، د دې باوجود د بني اِسرائیلو طبیعت

خومره سخت وو چې 40 ورځې هم په دِين باندې قائم پاتې نۀ شول، په شِرک کښې اخته شول، يو بے ساه سخے يې خپل خُدائے ومنلو۔

دلته د خورِ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ښکلي اُمت شان ته وګورئ! د خورِ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د جُدا کېدو تقريباً څوارلس نيمې صدۍ تېرې شوې، اَلْحَمْدُلِلّٰه! دا اُمت نن هم په تَوحِيد باندې قائِم دے، اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! د قيامته پورې به قائم وي۔

د شِرک خطره نشته

خورِ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې خپل اُمت ته کومې الوداعي خطبې اِرشاد کړې، په هغې کښې دا هم په خاص توګه بيان کړے شوې، وه يې فرمائيل:

وَاِنِّي وَاللهِ مَا اَخَافُ عَلَيْكُمْ اَنْ تُشْرِكُوْا بَعْدِيْ

بے شکه په الله پاک باندې مې دې قَسَم وي! زۀ ستاسو په باره کښې دا وِېره نۀ لرم چې زما نه پس به تاسو په شِرک کښې اخته شئ۔ [1]

سُبْحٰنَ الله! ګويا رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سُلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا ګارنټي ورکوي چې دا اُمت د تَوحِيد اُمت دے، دا اُمت به چرې هم په شِرک کښې نۀ اخته کيږي۔

د تَوحِيد پرستۍ يو مثال

خورِو او محترمو اِسلامي وروڼو! د دې فرمانِ ذِيشان د فېضان يو مختصر شان نظاره پېش کووم؛

---

1 ... بخاری، کتاب الجنائز، باب الصلاۃ علی الشہید، صفحہ:377، حدیث:1344۔

زمونږ پۀ خوږ وطن پاکستان کښې د حُضُور داتا ګنج بخش علي هجويري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مزار مبارک ډېر مشهور دے، د لرې لرې نه خلق دلته د سلام د پاره حاضريږي،اَلْحَمْدُلِلّٰه!د داتا حُضُور رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عاشقان پۀ ټوله دُنيا کښې ډېر دي-

د داتا حُضُور رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مزار مبارک پۀ څۀ داسې انداز باندې دے چې هلته که چرې نـمونځ کوې نو د مزار مبارک اړخ ته به شا راځي- والله! دا د دې اُمت پۀ توحيد باندې د اِستقامت مثال دے چې د داتا حُضُور رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عاشقان ډېر پۀ جذبې سره، پۀ شوق سره، ډېر پۀ محبت سره د لرې لرې نه سفر کوي او هلته ځان رسوي، سلام عرض کوي، بيا بيا ليدلے شوي دي چې کله د مزار مبارک نه واپس ځي نو پۀ شا شا ځي د پاره د دې چې مزار مبارک ته شا نۀ شي خو قربان شم! دا د توحِيد پرستی نخښه ده چې څنګه اذان وشي، نـمونځ کيږي، هم هٰغه عاشقان د داتا حُضُور رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د مزار اړخ ته شا کړي او ودرېږي او د يو اللهوَحْدَهٗلَاشَرِيْك پۀ حُضُور کښې سر پۀ سجده شي-

د عاشقانو دا انداز ښائي چې مونږ د داتا حُضُور رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره محبت ضرور کوو خو هغوئ خُدائے نۀ منو، سجده صرف يو اللهوَحْدَهٗلَاشَرِيْك ته کوو-

پۀ يو زړۀ کښې دومره محبتونه څنګه---؟

يو ځل حضرت اِمامِ حَسَن مُجتبیٰ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د خپل والدِ محترم حضرت علي المُرتضیٰ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه پوښتنه اوکړه: بابا جانه! آيا ستاسو زما سره محبت شته ؟ وه يې فرمائيل: بالکل شته- پوښتنه يې اوکړه: د ورور حُسَين [رَضِیَ اللهُ عَنْهُ] سره هم مو شته؟ وه يې فرمائيل: بالکل شته- پوښتنه يې اوکړه: د مور جاني (سيده فاطِمه رَضِیَ اللهُ عَنْها) سره مو هم محبت شته؟ وه يې فرمائيل:

بالکل شته- پوښتنه يې اوکړه: د نيکه بابا جان حضرت مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره مو هم محبت دے- وه يې فرمائيل: بالکل شته- بيا يې پوښتنه اوکړه: د الله پاک سره مو هم محبت شته ؟ وه يې فرمائيل: آؤ! بالکل شته- عرض يې اوکړو: بابا جانه! پۀ خبره باندې پوهه نۀ شوم، زړۀ يو دے، پۀ يو زړۀ کښې خو هم يو محبوب اوسيدے شي، ستاسو پۀ يو زړۀ کښې دا دومره ډېر محبتونه څنګه راځائے شوي دي؟ اوس مولیٰ علي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ کوم چې بَابُ مَدِيْنَةِ الْعِلْم (يعنې د عِلم د ښار دروازه) ده، د هغوئ جواب واورئ! وه يې فرمائيل: ځويه! آيا تۀ نۀ ګورې چې کله د نـمونځ وخت شي نو زۀ تاسو ټول جدا کړم او د الله پاک پۀ حُضُور کښې حاضر شم (دا د دې خبرې دليل دے چې پۀ اصل کښې هم يو محبت دے، باقي پاتې ټول محبتونه د الله پاک د محبت پۀ وجه دي)۔ (1)

غرض دا چې دا اُمت اَلْحَمْدُ لِلّٰه! اوس هم پۀ تَوحِيد باندې قائِم دے! آؤ ❁ مونږ د صحابۀ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم سره ❁ د اهلِ بيتِ پاک عَلَيهِمُ الرِّضوَان سره ❁ د اولیائے کرامو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم سره محبت کوو، دا هم د الله پاک د محبت اثر دے، د هٰغه محبت فيضان دے، ګڼې چې کله د سجدې کولو وخت شي نو حالت دا وي چې

ایک ہی صَف میں کھڑے ہو گئے محمود و ایاز
نہ کوئی بندہ رہا، نہ کوئی بندہ نواز
بندہ و صاحِب و محتاج و غنی ایک ہوئے
تیری سرکار میں پہنچے تو سبھی ایک ہوئے

1... انوارِ جمالِ مصطفٰے، محبتِ الٰہی کا بیان، صفحہ:410۔

الله پاک دې مونږ ته توفيق راعطا کړي، دا اُمت خو اَلْحَمْدُلِلّٰه! د توحيد اُمت دے، الله دې کړي چې زمونږ د ټولو عاشقانِ رسول اِيمان سلامت پاتې شي او هم پۀ توحِيد باندې پۀ قائِم پاتې کېدو، د دې دُنيا نه تلل نصيب شي- اٰمِيْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

مجھے دیدے اِیمان پر اِستقامت	پے سیِّدِ مُحتَشَم یا الٰہی!
خدایا بُرے خاتمے سے بچانا	پڑھوں کلمہ جب نکلے دَم یا الٰہی![1]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

نا شُکري د عذاب وجه ده

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! الله پاک فرمائي:

ثُمَّ عَفَوْنَا عَنْكُمْ مِّنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: بيا د هغې نه پس مونږه تاسو ته بخښنه اوکړه-

(پاره:1، سورۀ بقره:52)

علمائے کرامو دلته يوه پوښتنه کړې ده، بيا يې د هغې جواب هم ورکړے دے، پوښتنه دا ده چې قِبطي چې کوم قوم وو، يعنې د فرعون قوم والا، د هغوئي هم دغه جُرم وو، هغوئي فرعون خُدائے منلے وو، د هغۀ پۀ عبادت کولو سره به يې شِرک کولو، جُرم بني اِسرائيلو هم دغه اوکړو، قبطيانو خو يو ژوندے جارِ اِنسان خُدائے منلے وو، بني اِسرائيلو د خپلو

1... وسائلِ بخشش، صفحه:110۔

سترګو د وړاندې سخے ولیدلو چې جوړېدو ، بیا یـې هم هغه خُدائے ومنلو او پۀ شِرک کښې اخته شول-

یعنې جُرم یو شان دے خو قِبطیان غرق کړے شول او بني اِسرائیل غرق نۀ کړے شول، دوئي ته د توبې توفیق ورکړے شو، اخر پۀ دې کښې څۀ حِکمت دے؟ **علمائے کرام فرمائي:** د دې پوښتنې جواب د آیت مبارک پۀ اخره کښې ورکړے شوے دے، اِرشاد دے:

لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۵۲﴾

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: چې تاسو شُکر ادا کړئ-

(پاره:1، سورۀ بقره:52)

ګویا فرمائیلے کیږي چې اے بني اِسرائیلو! جُرم د فرعونیانو هم دغه وو خو پۀ هغوئي کښې دننه د شُکر اهلیت ختم شوے وو، ځکه هغوئي غرق کړے شول، پۀ تاسو کښې دننه د شُکر اهلیت موجود دے، ځکه تاسو له موقع درکړے کیږي چې توبه وکړئ، شُکر ادا کړئ! او د الله پاک پۀ تابعداریٔ او فرمانبرداریٔ کښې مصروفه شئ- [1]

معلومه شوه چې **د عذاب یوه وجه نا شُکري هم ده-** بنده ګناه کوي، الله پاک مهلت ورکوي، بنده بیا ګناه کوي، رَبِّ کریم بیا مهلت عطا کوي، بنده بیا ګناه کوي، هغه له بیا مهلت ورکولے کیږي، بنده ګناه کوي، ګناه کوي، تر دې پورې چې د هغۀ زړۀ تور شي، هغه د توبې جوګه پاتې نۀ شي، ګناه او نا شُکري د هغۀ پۀ طبیعت کښې دِیره شي، بیا هٰغه موقع

1... **تفسیر نعیمی**، پاره:1، سورۀ بقرة، زیرِ آیت:52، جلد:1، صفحه:383 و384 **مفصلاً**-

راشي چې الله پاک يې راکښر کړي او بنده تباه او برباد شي-

د يَمَن والا پۀ سبلاب کښې ولې راکښر شول؟

د عربو يوه قبيله وه، کومې ته چې سَبَا وئيلے کيږي- دا خلق د الله پاک د نبي حضرت هُود عَلَيْهِ السَّلَام پۀ اولاد کښې وو، د يمن پۀ يو کلي کښې اوسېدل، الله پاک دوئي ته بے مثاله نِعمتونه عطا کړي وو، د هغوئي د کلي اوبۀ او هوا داسې صفا او پاکه وه چې ❁ پۀ دې کلي کښې نۀ ماشي وو ❁ نۀ ماران او لړمانان ❁ نۀ مڅان ❁ نۀ منکوړ [يعني کټمل] ❁ موسم يې ډېر معتدل (يعني نارمل وو)، نۀ ډېره ګرمي وه، نۀ ډېره يخني ❁ زمکه يې ډېره زرخېزه وه، د دوئي باغونه به د مېوۀ نه ډک وو، د دې پورې چې يو ګس به شکرۍ پۀ سر کړه او پۀ باغ کښې به تېريدلو نو د هغۀ شکرۍ به د قِسما قِسم مېوۀ نه پخپله ډکېدله، هغه ته به د مېوۀ د راشوکولو ضرورت نۀ پېښېدو، دومره ډېره مېوه به يې کوله، غرض دا چې قام ډېر د خوشحالۍ، د امن او سکون او د ارام او قرار ژوند تېرولو-

اوس پکار خو دا وه چې دې خلقو د هٰغه نِعمتونو شُکر ادا کولے خو هغوئي نا شُکري اوکړه، الله پاک د هغوئي د هدايت د پاره يو نبي عَلَيْهِ السَّلَام راولېږلو، هغوئي د هٰغه نبي عَلَيْهِ السَّلَام نه اِنکار اوکړو، دوېم نبي عَلَيْهِ السَّلَام راولېږلے شو، د هغوئي خبره يې هم وه نۀ منله، درېم نبي عَلَيْهِ السَّلَام تشريف راوړلو، د هغوئي نافرماني يې هم اوکړه، پۀ داسې کولو کولو الله پاک د هغوئي طرف ته 13 انبيائے کرام عَلَيْهِمُ السَّلَام راولېږل خو دا سرکشه خلق وو، د هيڅ قِسمه شُکر او فرمانبرداريۍ طرف ته مائِله نۀ شول، بيا هٰغه موقع راغله چې نا شُکري او نافرماني د هغوئي زړۀ ته پرېوتله، نو بيا پۀ هغوئي باندې عذاب نازل کړے شو-

او عذاب هم درته پته ده چې څۀ راغلے؟ د منڭكانو پۀ ذريعه، د هٰغه كلي پۀ خوا كښې يو لوئي نهر وو، پۀ هٰغه نهر باندې هغوئي بند تړلے وو، د الله پاک قُدرت ته وګورئ چې هٰغه د قُدرت والا رَبِّ رحمان منڭكان مقرر كړل، كومو چې د بند زمكه د لاندې نه ډډه كړله، داسې هٰغه بند وشلېدو، پۀ ټول كلي باندې سېلاب راغلو او دوئي ټول پۀ ټوله غرق، تباه او برباد شول۔ (1)

معلومه شوه چې د څو پورې بنده شُكر ادا كوي، د هغۀ خطاګانې او ګناهونه هم پۀ پرده كښې ساتلے كيږي خو چې كله بنده نا شُكري كوي او هٰغه نا شُكري د هغۀ پۀ زړۀ كښې دِېره شي، نو بيا هغه راګېرولے كيږي او بنده تباه او برباد شي۔

شُكر د عذاب نه بچ كوونكې نېكي ده

الله پاک پۀ قرآنِ كريم كښې فرمائي:

مَا يَفْعَلُ اللّٰهُ بِعَذَابِكُمْ اِنْ شَكَرْتُمْ وَاٰمَنْتُمْ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ شَاكِرًا عَلِيْمًا ﴿۱۴۷﴾

[مفهوم] ترجمۂ كنزُ العِرفان: او كه تاسو شُكر ګُزار جوړ شئ او اِيمان راوړئ نو الله تاسو ته عذاب دركولو باندې څۀ كوي، او الله قدر كوونكے، پوهه دے۔

(پارہ:5، سورۂ نساء:147)

يعني اے خلقو! كه چرې تاسو د الله پاک شُكر ګزار بندګان جوړ شئ او پۀ هغۀ باندې

1... تفسير طبری، پارہ:22، سورۂ سبا، زيرِ آيت:1615، جلد:10، صفحہ:361، حديث:28786 28788۔

اِيمان راوړئ نو الله پاک به تاسو له پۀ عذاب درکولو څۀ اوکړي او د الله پاک شان دا دے چې هغه د شُکر ګزار مسلمانانو قدر کوونکے او د هغوئي نه خبر دے۔ [1]

معلومه شوه چې شُکر د عذاب نه بچ کوونکې نېکي ده او نا شُکري هٰغه بدي ده کومه چې د عذاب سبب جوړېږي۔ ځکه مونږ له پکار دي چې مونږ هر وخت د الله پاک شُکر ادا کوو۔

دَاَلْحَمْدُلِلّٰه وئيلو عادت جوړ کړئ---!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د شُکر کولو د ټولو نه افضله طريقه اَلْحَمْدُلِلّٰه! وئيل دي۔ که هر څۀ خبر مېلاؤ شي، د هغې دُعا ده: اَلْحَمْدُلِلّٰه! ځکه وخت پۀ وخت د اَلْحَمْدُلِلّٰه! وئيلو عادت جوړ کړئ! مثلاً ❁ سحر مو سترګې وغړېدلې نو دا هم نِعمت دے، اَلْحَمْدُلِلّٰه! ووايئ ❁ د بسترې نه د راپاڅېدو جوګه شوئ نو اَلْحَمْدُلِلّٰه! ووايئ ❁ ښېې سلامتې دي، د پېزار قابلې دي نو اَلْحَمْدُلِلّٰه! ووايئ ❁ د ودرېدو قابل يئ نو اَلْحَمْدُلِلّٰه! ووايئ ❁ زنګونان مو حرکت کوي يعنې د ګرځېدو قابل دي نو اَلْحَمْدُلِلّٰه! ووايئ ❁ د کار د پاره ووتلئ، الله پاک توفيق درکړو نو ووتلئ نو ځکه اَلْحَمْدُلِلّٰه! ووايئ ❁ مابنام کور ته راورسېدئ نو اَلْحَمْدُلِلّٰه! ووايئ ❁ بچي مو وليدل نو اَلْحَمْدُلِلّٰه! ووايئ ❁ اوبۀ مو وڅښلې نو اَلْحَمْدُلِلّٰه! ❁ خوراک مو اوکړو نو اَلْحَمْدُلِلّٰه! ❁ چائے مو وڅښله نو اَلْحَمْدُلِلّٰه!۔ داسې د اَلْحَمْدُلِلّٰه! وئيلو عادت جوړ کړئ۔ د دې فائده به څۀ وي؟ يو خو دا چې مونږ به پۀ شُکر ګزار جوړېدو کښې کامياب شو، بيا به د دې

---

1 ... صراط الجنان، پارہ:5، سورۂ نساء، زیرِ آیت:147، جلد:2، صفحہ:338۔

سره سره بے شمېره نېکۍ او خېرونه هم رانصيب شي۔

د اَلْحَمْدُلِلّٰه وئيلو فضيلتونه

❁ د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صحابۂ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان ته وفرمائيل: ډالونه (يعني د دښمن د ګزار نه د بچ کېدو د پاره اِستعمالېدونکي وسله) راواخلئ! صحابۂ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! آيا دښمن حمله کړي ده؟ وه يې فرمائيل: نا (دښمن حمله نۀ ده کړې) بلکې د دوزخ مقابله کښې خپل ډالونه راواخلئ او سُبْحٰنَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ لولئ ځکه چې دا کلمات به د قيامت پۀ ورځ د مخکښې او وروستو نه ستاسو حفاظت کوي [1] ❁ زمونږه خوږ نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صحابۂ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان ته وفرمائيل: آيا پۀ تاسو کښې څوک روزانه د اُحُد د غر همره عمل کولو طاقت لري؟ عرض يې اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! روزانه د اُحُد د غر همره عمل طاقت څوک لرلے شي؟ وه يې فرمائيل: تاسو ټول د دې طاقت لرئ۔ عرض يې اوکړو: هغه څنګه؟ وه يې فرمائيل: اَلْحَمْدُ لِلّٰه وئيل د اُحُد د غر نه زيات د عظمت والا دي [2] ❁ د حضرت ابو مالِک اشعري رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دے، رسولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: اَلْحَمْدُ لِلّٰه وئيل تله ډکوي۔ [3] يعني د اَلْحَمْدُ لِلّٰه وئيلو سره دومره ثواب مېلاؤېږي چې د قيامت پۀ ورځ چې به کله دا ثواب د عمل پۀ تله

1... مستدرک، کتاب الدعا والتکبیر، باب المنجیات الباقیات ...الخ، جلد:2، صفحه:235، حدیث:2029۔

2... معجم کبیر، جلد:7، صفحه:280279، حدیث:14812 ملتقطاً۔

3... مسلم، کتاب الطهارة، باب، فضل الوضوء، صفحه:106، حدیث:223 ملتقطاً۔

کښې کښښودے شي نو تله به ډکه شي۔ [1]

الله پاک دې مونږ ته د ډېر زیات شُکر ادا کولو او د اَلْحَمْدُلِلّٰه وئیلو او ژبه د الله پاک په ذِکر باندې د لـمدې ساتلو توفیق راعطا کړي۔ اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

ذکر و درود ہر گھڑی وردِ زباں رہے | میری فضول گوئی کی عادت نکال دو [2]

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

د کلمه اینډ دُعا (Kalma & Dua) ایپ تعارف

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د عاشقانِ رسول د ديني تنظيم دعوتِ اِسلامي I.T ډيپارټمنټ يو ډېر ښکلے موبائل ايپلي کښښن په نوم د کلمه او دُعا (Kalma & Dua) جاري کړے دے۔ د دې ايپلي کښښن په ذريعه ډېر په اسان انداز کښې د ماشومانو تربيت کېدے شي ❁ په دې ايپلي کښښن کښې د ماشومانو د پاره 6 کلمې د آډيو په شکل کښې د حروفو د ادا کولو او د ترجمې سره ❁ د امروزه 16 مختلفې دُعاګانې مثلاً د اوبو څښلو دُعا ❁ د ډوډۍ خوړلو نه مخکښې او وروستو دُعا ❁ د پئيو څښلو دُعا ❁ د اودۀ کېدو دُعا وغېره د حروفو د ادائيګۍ او ترجمې سره او په مختلفو موضوعاتو باندې سُنت او آداب وغېره شامل دي۔ په خپل موبائل کښې دا ايپلي کښښن انسټال کړئ او فائده ترېنه واخلئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ۔

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

1...فیض القدیر، جلد:4، صفحه:384۔

2...وسائلِ بخشش، صفحه:305۔

د بيان پۀ اخره کښې راځئ چې يوه شرعي مسئله زده کړو:

صحيح څۀ دي؟

(د صحيح شرعي مسئلې يا پۀ خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ پۀ ګوته کول)

مسئله: د نـمونځ کوونکي طرف ته د بَل ګَس مخ کول، ناجائزه او ګناه ده۔

وضاحت: دا يوه مسئله دلته ډېره عامه کيږي چې کله جَمعه وشي، سلام وګرځولے شي نو د مخکښې صفونو والا زر زر شا ته د تللو کوشش کوي، شا ته ځائے نۀ وي ځينې خلق خپل باقي پاتې نـمونځ کوي، پۀ عام توګه ليدلے شوي دي چې دا تېرېدونکي د نـمونځ کوونکي طرف ته مخ کړي او ودرېږي، دغه شان پۀ نورو موقعو باندې هم د نـمونځ کوونکي طرف ته مخ کړي او ودرېږي، داسې کول، نا جائزه او ګناه ده۔ **پۀ بهارِ شريعت کښې دي،** د يو ګس مخې ته نـمونځ کول (يعنې چې د ناست ګس مخ يا مخه ستاسو طرف ته وي د هغۀ طرف ته مخ کول او نـمونځ کول) مکروهِ تحريمي دي۔ داسې د بَل ګَس دپاره د نـمونځ کوونکي طرف ته مخ کول هم ناجائزه او ګناه ده۔ [1]

الله پاک دې مونږ ته د صحيح اِسلامي احکامو د زده کولو او پۀ هغې باندې د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔ اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

1... بهارِ شريعت، جلد:1، حصه:3، صفحه:626۔

د اَسمَاءُ الـحُسنیٰ برکتونه (وظيفه)

يَاوَارِثُ(اے حقيقي مالکه!)

څوک چې د يَاوَارِثُ وِرد کوي اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! د هغۀ عمر به ډېر وي- [1]

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

1... مدنی پنج سوره، صفحه: 259۔